# دنوي کال په درشل کې دهېوادوالو غوښتنې!

کال تیر شو، سړه هوا دګرمۍ خواته زورکوي، دانسانانو او د هوا د مرغانو لپاره پسرلی د طبیعت ښکلی موسم او دښکلا منظره ده، چې زموږ زیارکښ بزګران په دې زینتي موسم کې د خپلو کروندو او کرکیلو لپاره منظم پلان جوړوي او دکال په پای کې پایله یې ترلاسه کوي.

دکال پیل ته نه یوازې بزګران خوښ دي، بلکې هروګړی که دنده لري او یا بې روزګاره وي، دخپل ژوند دپرمخ وړلو لپاره ځانګړي پلانونه جوړوي. په هر کار کې تصمیم او پلان درلودل انسان دبریا لوړو موخوته ژر نږدې کوي.

تیرکال چې په جنګونو او همدا رنګه په بېلابیلو نانډریو کې تیرشو، نن هر افغان له حکومت او د دولت مخالفینونه هیله او غوښتنه لري، چې نور افغانان بې وسې شوي، د ځورولو او کړېدلو توان نه لري. نو دنوي کال په لومړیو او د پیلیدو سره سم د رښتینې سولې راتګ ته هیله من دي.

افغانان په نوي کال کې ډېرې هیلې لري او وایي: دولت چې د تیر و څوکلونو ترخې تجربې ترلاسه کړې، نو کیدای شي ددې کال لپاره حکومت د ټول ځواک او واک په وړتیا هېوادوالو ته دا ثابته کړي چې رښتیا هم ولس ته کوم خدمت چې په پام کې یې درلود او هغسې لکه چې شوې وای، نه دي شوي، باید چې په خپلو کړو ژمنو ودرېږي او دخلکو هیلې راوغوړوي.

اوس نودولت باید دخپلو طرحه کړو پلانونو له مخې ولس ته په عمل کې هغه څه ثابت کړي، چې هم دولس په ګټه تمام شي او هم د بې روزګارو کسانو لپاره د کارکولو چانس په پام کې ونیول شي.

هېوادوالو ته ډاډمن امنیت، د پرمختییایي اوبنسټیزو پروژې په لاره اچول، بې روزګاره ځوانانو ته کاري آسانتیاوې برابرول، داداري فساد مخه نیول او همدارنګه د دولتي ادارو په چوکاټ کې د روابطو ځای پر لیاقت، استعداد او فکري وړتیا باندې بدلول داهغه کړنې دي چې که چیرته دولت لازم تدابیر په پام کې ونیسي اودعملي کیدو پلان یې سم وسنجوي، نو دهېواد څخه به ډېر ژر د بدبختیو غوړېدلی تغر ټول اوځای به یې د وحدت او د ملي یوالي تغر ونیسي.

ولس ته هم لازم ګڼو چې د پسرلي په ښکلي موسم کې خپلو هېوادوالو ته د خدمت او دهېواد په آبادولو، سمسورلو اودنیالګیو په کینولو کې فعاله برخه واخلي، ځکه نیالګي دطبیعت ښکلا ته زرغون رنګ ورکوي او اودراتلونکي نسل لپاره زموږ دلاس ښښه پاتې اوثواب یې همدغو کسانو ته رسیږي.

نو راځئ چې دپسرلي په موسم کې ځانګړې کاري پلانونه جوړ کړو، که دولت وي اوکه ولس؛ دواړه په ګډه هېوادوالوته اوړه په اوږه کار وکړي او د هېواد په سمسورونې او روغونې کې ګړندي ګامونه پورته کړي.

نو بیا به خپلو هغو هیلوته چې یادونه یې وشوه په چټکۍ سره ورسیږو او د یو پرمختللي اوډاډمن افغانستان د درلودو شاهدان به واوسو. ان شاالله

**لیکنه شیرمحمدامیني «ستانکزی»**

# څنګه خوشاله ژوند وکړو؟

**دویمه برخه**

**ژباړه: عطا محمد میاخېل**

**خپلې وړتیاوې وارزوئ:**

خپلې وړتیاوې وارزوئ او له هغو څخه کار واخلئ، وګورئ، چې له نورو څخه کوم کار ښه ترسره کولای شئ؟ په کوم کار کې مهارت لرئ؟ د کوم کار ترسره کېدل ستاسو له پاره آسان او د نورو له پاره سخت دی؟ کله چې تاسو کوم کار په ښه او سمه توګه ترسره کړئ، نو په ډاډ سره ویلی شم، چې ډېر خوند به ترلاسه کړئ.

**د تېرو په اړه فکر وکړئ:**

تل د خپلو تېرو په اړه فکر وکړئ، چې تر نن ورځې کومو شیزونو ستاسو په بریا کې مهمه ونډه درلوده، هرومرو داسې کارونه شته، چې ترسره یې کړئ، چې ترسره کول یې نه یوازې ستاسو له پاره بلکې د نورو له پاره هم ارزښت لري.

**له نورو سره مرسته وکړئ:**

د نورو مرستې ته ورودانګئ. د یوازېتوب ژور احساس هغه مهال انسان ته لاس ورکوي، چې په خپل ژوند کې یې اصلي موخه یوازې ځان وي او بر عکس د ژوند تر ټولو خوشاله شېبې، له نورو سره د مرستې او همکارۍ پرمهال انسان ته غېږ ورکوي.

**اغېزه ولرئ:**

اغېزه ولرئ او اغېزه ومنئ، تاسو د خپل عمر په اوږدو کې د ژوند له لوړو او ژورو سره مخامخ شوي یاستئ او ډېرې تجربې مو ترلاسه کړې دي. په ټولنیزو فعالیتونو کې په ګډون سره کولای شئ، له خپلې علمي او مسلکي وړتیا څخه په ګټه اخیستنې، نورو ته د خدمت جوګه شئ او نور له خپلو تجربو څخه برخمن کړئ، دا اړیکه به تاسو ته د دې فرصت درکړي، ترڅو نوي شیزونه زده کړئ، دا ټولنیز تعامل به ستاسو د فکر د یووالي د پیاوړتیا لامل شي او دغه راز به ستاسو په رواني او جسمي حالت باندې مثبته اغېزه وکړي.

**ستاسو د خوښې وړ کارونه:**

خپل د خوښې وړ کارونه پیدا او ترسره یې کړئ، فکر وکړئ، چې له کومو کارونو سره ډېره زیاته مینه لرئ، په همغه برخه کې فعالیت وکړئ، د خوښې وړ کارونو په ترسره کولو کې شور، شوق او لېوالتیا شتون لري، چې مثبتې اغېزې هم له ځانه سره لري.

**بېکاره مه اوسئ:**

د ژوند په هېڅ پړاو کې بېکاره مه اوسئ، تل هڅه وکړئ، چې یو کار ترسره کړئ، د خپل پرمختګ له پاره ډېر کوښښونه وکړئ، تر څو شاته پاتې نه شئ، شاته تګ مه منئ، بلکې همېشه د پرمختګ په حال کې واوسئ، د مثبتو حرکتونو او خوځښتونو په پایله کې تازه فرصتونه او موقعیتونه را څرګند ېږي.

**د خپلې راتلونکې په اړه فکر وکړئ:**

له تېرو څخه یې زده کړئ، په اوس کې ژوند وکړئ او د راتلونکې په اړه فکر وکړئ، د خپل عمر د ډېروالي تر اغېزې لاندې مه راځئ، له اوس څخه ګټه واخلئ او د خپلې راتلونکې په اړه فکر وکړئ، د خپلې روښانه راتلونکې له پاره نن ډېره هڅه وکړئ، که څه هم د زړښت له پاره یو برید ټاکل شوی، خو د هر فرد سن له هغه تصویر او روحیې سره تړاو لري کوم، چې دی یې په خپل ذهن کې لري، دا تاسو یاستئ، چې ځانونه د ځوانۍ وړ ګڼئ، یا د زړښت غلطو نظریو ته په خپل ذهن کې ځای ورکوئ، مه هېروئ، یوازې یو ځل ژوند کوئ، نو خپل عمر او ژوند بېځایه مه بربادوئ.

**پای**

# غرس نهال صدقه است!

دین مقدس اسلام غرس نهال و کشت نبات را منحیث صدقه اعلان نموده، غرس نهال و حفاظت از آن در روشنی ارشادات اسلامی یک خدمت به نوع بشر است، که پاداش و ثواب بیشمار بدست می آید. درارتباط با غرس نهال، رهنمائی های شفاف و همه جانبهٔ در دین مبین اسلام موجود است. درختان از گرانبها ترین نعمت های خداوند مهربان برای انسان و یکی از زیبا ترین مظاهر خلقت آفریدگار عالم است، به دلیل نقش حیاتی که در زنده گی تمام موجودات زنده به خصوص انسانها دارد، در در دین مبین اسلام مورد توجه خاص قرار گرفته است.

نهال شانی یکی از فرهنگ دیرینه مردم ما به شمار میرود که همه ساله به منظور سرسبزی ساحات نهالشانی صورت میگیرد.

غرس نهال و مراقبت از آن مسؤلیت تمام افراد جامعه میباشد تا آنرا منحیث وجیبه دینی، انسانی و افغانی خود و امانت نسل های بعدی شمرده نهال غرس نمایند و از آن مراقبت نمایند.

به منظور بهبود وضعیت محیط زیست، از همه هموطنان عزیز تقاضا می نمائیم تا در سال جاری نیز با غرس نهال و مراقبت از آن در زیبائی طبیعت و سرسبزی زمین که یگانه مسکن و محل زندگی همه موجودات زنده است، کمر همت ببندیم در سرسبزی محیط زیست تعهد نموده، سلامتی نسل آینده را تضمین و چهره زیبای طبیعت را زیباتر سازیم.

**ریاست حفاظت محیط زیست ولایت لوگر**

# آرامگاه تاریخی خواجه سید احمدآغا

آبده تاریخی خواجه سید احمدآغا یکی ازجمله آبدات تاریخی ولایت لوگر بشمار میرود که در جوار قطعه خاص شکارقلعه بالای تپه سرخ آباد ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر موقعیت دارد .



ساختمان مقبره خواجه سید احمد آغا در زمان سلطان محمود غزنوی اعمار شده ویکی از ساختمان های دوره غزنویان شمرده میشود ، این آبده دارای یک منزل بوده مساحت ۱۵۰ مترمربع زمین را احتوا کرده که بشکل مستطیل اعمار گردیده دارای چهار رواق کمان دار وگنبد قدیمی میباشد ارتفاع گنبد این آبده از کف زمین به اندازه ۷,۵۷ متر است ، مواد مصرف شده آبده سنگ ، خشت خام و گل میباشد.

# هموطنان عزیز!

**برای احتیاط بخاطر جلوگیری از انتشار مرض کرونا نکات ذیل را مراعات نمایید :**

**1 - دست هایتان را روزانه با آب وصابون مکرراً بشویید.**

**2 - هنگام سرفه وعطسه دهن وبینی تانرا با ماسک، دستمال ویا ارنج بازو بپوشانید.**

**3 - از تماس نزدیک با افراد که مبتلا به زکام ویا ریزش هستند خود داری کنید.**

**4 - گوشت وتخم را قبل از خوردن خوب پخته کنید .**

**5 - درهنگام تماس با حیوانات از وسایل محافظتی مانند دستکش، ماسک، عینک، موزه وچپن استفاده نمایید.**

**این پیام ازطرف وزارت صحت عامه به شما تقدیم شد .**

**دهیواد دسمسورتیا او ښکلا لپاره نیالګي کینول ثواب او ستاسو د روغتیا او سلامتیا سبب ګرزي؛ راځئ چې په خپلو سیمو کې یو ـ یو نیالګی کینوو، له یوه لوري به مو دنیالګي کینولو فرهنګ ته وده ورپه برخه کړې وي او له بل پلوه به د نیالګیو غوځولو او قطع کولو فرهنګ دهیواد له ګوټ ګوټ څخه له منځه وړي وي.**

**(جریدې مدیریت)**

# د ټولنیزو رسنیو د کارونې اخلاق

**لیکوال: محب الله آرمل** **دویمه برخه:**

**۱ ـ په فسبوک د راز خبرې مه لیکئ:** ځینې کسان چې له یو بل سره ملګري هم وي خپلو کې سره خپه شي، خپګان یې تر جنجاله ورسیږي او جنجال تر فسبوکه . انسان مسئول دی، چې خپل احساس کنټرول کړي، په تېره د نن انسان چې د انټرنېټ په عصر کې ژوند کوي.

په فسبوک د راز خبرې او د خپلو ملګرو د عیبونو لیکل هغه غشي دي، چې بیا راګرځېدل یې ممکن نه دي، کېدای شي په احساساتي وخت کې داسې خبرې ولیکئ چې وروسته پرې پښېمانه شئ، ممکن غلط ګمان وکړئ، ممکن ناسم قضاوت وکړئ ... مګر کله مو چې فسبوک ته وسپارل نور یې ټوله نړۍ ویني، فسبوک د څو ملګرو د بنډار ځای نه دی، فسبوک یو داسې بنډار ځای دی، چې د نړۍ ټول وګړي پکې راټول دي.

هڅه وکړئ چې احساسات کنټرول کړئ، که مو په وس کې نه وه د غوسې او غضب په وخت کې لیکل مه کوئ، قهر او احساسات عقل تر پښو لاندې کوي، د دغسې شېبې لیکل او خبرې د منطق په تله کې سپکې خېژي او ستاسې په شخصیت منفي تاثیرات لري.

**۲ ـ فسبوک د ساتیرۍ لپاره مه کاروئ:** په ژوند کې ډېر بېځایه محدودیتونه خوند نه کوي، ښه خبره ده، چې پر فسبوک طنز ولیکو او ویې لولو مګر بې ګټې او مذخرپ شیان او غېر موثره ساتیري مو پکې د شخصیت نه خلاصوي، په فسبوک خپل نظر ولیکئ، د خپل مبایل په کمره اخستل شوي، عکسونه او د خپلې سیمې ستونزې او خبري مسایل پکې ولیکئ، د خپل هېواد، کلي او سیمي کلتوري دودونه پکې معرفي کړئ ... خو بې ګټې شیا مه خپروئ، چې یو ستاسې شخصیت ته پکې صدمه رسیږي او بل د خلکو وخت بېځایه مصوفوئ.

**۳ ـ د فسبوک لپاره وخت بېل کړئ:** عبادت چې د خدای لپاره یې کوو هم خپل وخت او ځای لري، ټوله ورځ عبادت کول هم د ژوند د تعادل اصل تر پښو لاندې کوي او انسان له انسان لرې کوي.

ټوله ورځ فسبوک او هره ګړئ په فسبوک ګوتې وهل ستاسې د وخت تر وژلو اضافه ستاسې رواني مشکلات هم زیاتوي او نارامه کوي مو .

زموږاو تاسو شریکه تجربه ده، چې انټرنېټ مو په ټولنزو اخلاقو منفي اغېز کړی. خواږه ملګري به کلونه پس په یوه مجلس کې راټول شي خو تر لنډې پوښتنې او ګروبړنې وروسته به ګورې چې ټول په فسبوک کې لګیا وي او تر څنګ ناست ملګري به یې یوازې پریښي وي، فسبوک مو که د لرې ملګرو سره نږدې کوي خو له نږدې ملګرو او کورنۍ مو لرې کوي.

بهتره دا ده، چې د فسبوک لپاره وخت بېل کړئ، په خلاص وخت کې یې وکاروئ او یا هم یوازې هر سهار او ماښام یې یو ځل سر ورښکاره کړئ.

**۴ ـ د انټرنېټ زیاته کارونه مو له اصلي کارونو پاتې کوي:** هغه لیکوال چې د ورځنیو پېښو، ټولنېزو، رواني، تاریخي، علمي پرمختګونو او نوښتونو ... په اړه به یې اوږدې تحلیلي، تحقیقي، جامع او بشپړې مقالې او لیکنې کولې اوس یوازې د فسبوک په پوسټونو ګزاره کوي.

ډېر نور خلک چې باید د ورځې په اوږدو د خپل مسلک، دندې او ذوق اړوند فعالیت وکړي. د وخت نه تنظیم یې د اصلي کار خنډ او ټول وخت یې په فسبوک کې ضایع کیږي، له فسبوک او ټولنیزو رسنیو د اړتیا تر حده استفاده ګټوره ده، مګر ټول وخت فسبوک ته ورکول ستاسې د اصلي کار د پاتې کېدو لامل ګرځي.

**۵ ـ په فسبوک کې د استخباراتي پېښو او آوازو په شریکولو او خپرولو کې احتیاط وکړئ:** زموږ په هېواد کې ډېر هېوادونه په تېره ګاونډې استخبارات کار کوي او هره استخباراتي اداره د خپل هېواد د ګټو لپاره لګیاده. اکثره وخت به داسې آوازه خپره شي چې سل سلنه به دروغ وي، خو خلک به یې د واقعیت په توګه ومني، په خپرولو کې به یې برخه واخلي او په دې سره به خپلې ټولنې ته تاوان واړوي.

د لوګر په ښوونځیو کې په ۵۴۰ کسانو د جنسي تیري آوازه ممکن د څلور یا پنځو کسانو تر تعداد پورې رښتیاوي خو په دومره لوی شمېر دروغ وه مګر ټول ولس، آن نړیوالو د ریښتیا په توګه ومنله، چې پدې سره مو خپل فرهنګ، عقیده او اخلاق داغ دار کړل، دغه شان نور ډېر کارونه چې اصلاًد نورو هېوادونو استخباراتي پروژې وي، یا د ولس د حساسیت پارولو، یا د نظام، یا د ولس د بدنامولو لپاره ډیزاین شوې وي په خپرولو او شریکولو کې یې احتیاط په کار دی.

**۶ ـ له انټرنېټ مثبت ګټه پورته کړئ:** په نړۍ کې اکثره ابزار د کارونې مثبت او منفي اړخ لري، آن [خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.] په انټرنېټ بېځایه وخت تېرول که له یوې خوا ستاسې پیسې او وخت مصرفوي له بلې خوا مو په همدې ساتېري عادت کوي، کله چې په انټرنېټ کې د لوڅو فلمونو یا ورته نورو مسایلو په کتلو کتلو عادت شوئ مثبت اړخ یې درڅخه پاتې کیږي، نوې څېړنې په ډاګه کوي، چې سکس که یو کس زیات وګوري پرې روږدی کیږي، دغه شان مو که ځان په مطالعه عادت کړ ګټه مو وکړه، خو که مو ځان په ساتېرۍ پکې روږدی کړ بیا به د ګټې اړخ پاتې وي.

**پای**